سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۵/۱۹

# روژه یوه ستره مبارزه ده

روژه د اسلام د دین له پنځو اصلونو نه یو اصل دی، یو فرضی عبادت دی، یوه سخته آزموینه ده او د دی ټول تر څنګ یوه ستره او درنه مبارزه، جګړه او ځان جوړونه هم ده.

زمونږ عقیدتی او اروایی پوهنه مونږ ته دا را په ګوته کوی چی د هر عاقل او په ذهنی لحاظ د سالم انسان په وجود کی څلور نفسانی قواوی وجود لری نومونه یی دادی:

۱ـ اماره قوه ( نفس اماره )
۲ـ ربامه قوه ( نفس ربامه )
۳ـ الهامیه قوه ( نفس ملهمه )
۴ـ اطمنانیه قوه ( نفس مطمئنه )

په پورته څلورو قواو کی یواځی لومړۍ شمیره قوه چی نفس اماره ورته وایی هسی یوه سرکشه، بی لاری، یاغی او د شیطانی صفاتو را پارونکی او روزونکی قوه ده چی د انسان په وجود کی قهر، غضب، کرکی ، ویری، بی حوصله ګی، بی ایمانی، بی حیایی، بی شرمی، شومتوب، زجر،آزار او په سلګونو دارنګه نوروصفاتو ته چی نورو انسانان ته د کړاوونو د را پیدا کیدو سبب ګرځی او د ظلم، استبداد او تیری د اعمالو د تر سره کولو د پاره لاری پرانزی، تقویه کوی او د ژوند په هر ګام کی انسان دی ته را بولی چی د نورو د پاره د کړاو او آزار لاملونه را منځ ته کړی او نور د غم او ماتم سره مخامخ کاندی.

که یو انسان په دی بری ونه مومی چی خپل وجود کی د دی سرکشی قوی دزیاتیدو مخنیوی وکړی، نو بیا دا قوه په یوی نا علاجه ناروغی اوړی او له همدی بنه انسان څخه یوه داسی بده بلا جوړوی چی د ژوندیو موجوداتو په ټول تاریخ کی یی نمونه نشی پیدا کیدلی. د دی ادعا د ثبوت د پاره د مشخص مثال راوړلو ته ځکه اړتیا نشته چی د بشری ټولنی د ټول تاریخ لویه برخه د همدی قوی له تاثیرڅخه ډکه ده او د میلیونو لویو او وړو جنګونو او د دی جنګونو په اثر د تباهیو ټول مسؤلیت د هماغو انسانانو په غاړه دی چی دا قوه وربandی غالبه پاتی شویده.

په انسان کی نوری دری قواوی ټل په دی تکل کی دی چی د دی سرکشی قوی د زیاتیدو مخنیوی وکړی. ربامه قوه یا نفس ربامه، د انسان په وجود کی یوه اصلاحی قوه ده. دا قوه ټل زیار کاږی چی د انسان د ماغ د بنه فکر کولو لوری ته و هڅوی او د انسان اراده د حق ویلو او په حقونو باندی د پوهیدلو لوری ته را وګرزوی. برسیره



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

پردی دا قوه وظیفه لری چی د حقونو د د پیژندلو د پاره انسانی ذهن د حدودو او بریدونو پیژندنی ته متوجه کاندی او پری نږدی چی د دی حدودو نه تیری او تجاوز وشی.

د انسان په وجود کی د ربامه قوی (نفس ربامه) تقویه د دی لامل کرځی چی الهامیه قوه ( نفس ملهمه) قوه پیاوړی شی او انسان ته د دی زمینه برابره کاندی د حق سره پیوند او ارتباط و مومی. کله چی د حق سره د انسان پیوند را منځ ته شی نو همدلته دی چی د هغه په وجود کی د اماره قوی ( نفس اماره ) ځای یو ه بله قوه چی اطمنانیه قوه ( نفس مطمئنه) ورته وای نیسی، او په دی توګه انسان ته د دی زمینه برابروی چی د حق سره وصل شی او د هستی اصلی منبع و پیژنی. کله چی انسان د هستی اصلی منبع و پیژندله نو بیا د ظلم د لاری نه چی د انسانی ژوندانه تعادل او انتظام له منځه وړی، د حق لاری ته چی د هستی د اصلی منبع پیژندنه ده را ګرځی او د سعادت په لوری پر مخ ګامونه اخلی.

اوس به وګورو چی په منطقی لحاظ روژه د حق سره د وصلت د قوی ( نفس مطمئنه ) په پیاوړتیا کی څومره ونډه لری او د یوه هسی عبادت په بڼه چی د اماره قوی ( نفس آماره ) سره د مبارزی د پاره د اسلام په مقدس او مکمل دین کی فرض شویدی په کومه طریقه مؤثریت میندلی شی؟

روژه یوا ځی د خوړلو او څکلو نه د پرهیز او په ټاکل شوی وخت کی د ځان ژغورنه، نه ده. بلکی د ټولو شیطانی اعمالو سره د یوی هسی جګړی او مبارزی اعلان دی چی د انسان د بدن هر غړی څه چی حتی هره حجره پکی برخه لری او په ټولو خبیثو او شیطانی خصایصو باندی د حق له مورچی څخه نابود ونکی او ماتونکی ګزارونه کیږی.
په دی ستره جګړه کی یواځی خوله، چی نوربدن ته د خوړلو او څکلو له لاری قوت او انرژی ور رسوی برخه نه لری، بلکی د بدن دواړه پښی پکی تر ټولو لویه برخه لری او هلته به نور وجود نه وړی چی اماره قوه هلته د بدن وړل غواړی، لاسونه به هسی حرکت نه کوی چی په بدن کی د اماره قوی د زیاتوالی سر مرسته وکړی، سترګی به هغه شی ته نه ګوری چی د نفس اماره د خوښی سبب کیږی، غوږونه به هغه څه نه اوری چی د شیطانی عمل د پاره د انسان د بدن نور غړی را ولمسوی، ژبه به هسی کلمات نه استعمالوی چی په اوریدو سره یی په بدن کی د اماره قوی د په خوله خندا راشی او په همدی توګه ذهن به په هغه څه نه مصروفیږی چی د خبیثه خصایلو په تقویه کیدو سره د بدن په نورو غړو کی د دی ستری مبارزی سنګر د ماتی سره مخامخ شی. که چیری د انسان د وجود ټول غړی لکه څنګه چی د درد، غم او خوشالی په شیبو کی یو د بل سره ملګرتیا او اتفاق لری، د روژی په نیولو او د شیطانی سر کشیو سره د مبارزی او جګړی په میدان کی هم یو تر بله سره په پوره یووالی کی له واحد سنګر په دی شیطانی قواو د صبر او حوصلی مرمی و چلوی نو بیا په دی کی څه شک نه پاتی کیږی چی بری به د همدی بدن د غړو په برخه وی او دا انسانی وجود به په دواړو جهانونو کی د خوښی او بریاو سره مخ وی. که مو همداسی روژه و نیوله نو ښه او مکمله روژه مو نیولی، مبارک مو شه. او که مو د بدن هر غړی د شیطانی قوی غوښتنی ته تسلیم شو ښه روژه مو نه ده نیولی او د خوښیو امید لرل هم ورنه شی کیدای. د عبادت په ځای مو عادت تر سره کړی او د مبارزی پر ځای مو د شیطان په وړاندی د تسلیمی ګونډه وهلی ده. ټول دی الله ج ورنه وژغوری او ټولو ته دی په دی مبارزه کی بری ور په برخه شی. آمین.